AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۴/۱۶

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
# دوهم ټوک
## (دري دیرشمه برخه)

### ډاکټر محمد ظاهر علم غازي

د عبدالکریم خان زوی په ۱۹۳۶ز کال کې په لوګر کې زیږېدلی دئ؛ (عبدالکریم خان : د غازي ګل علم خان زوی دئ. ګل علم خان د افغان – انګلیس په دوهمي جګړې کې د آزادی د لارې یو جنګیالی وو). محمد ظاهر د کابل پوهنتون د طب له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ او نور تحصیلات ئې د امریکا په متحده ایالاتو او هندوستان کې وکړل. د وزیر اکبر خان په روغتون کې ئې کار وکړ. د ۱۹۸۰ز کال په لومړیو کې له افغانستانه ووت او له مجاهدینو سره ئې د مورچلونو د ډاکټر په توګه کار وکړ.

### محمد عظیم غازي

د شاه محمود غازي دریم زوی. د امریکا په متحده ایالاتو کې ئې پوځي روزنه تر سره کړه. په مسکو کې د افغان سفارت پوځي اتشه. په ۱۹۷۷ز کال کې وفات سو. د سردار محمد داؤود له لور زرمینې سره ئې وادهٔ کړی وو.

## شاه محمود غازي

په ۱۸۸۶ز کال کې زیږېدلی دئ. سردار او محمدزی دئ. د محمد یوسف کشری زوی او د پخواني پادشاه محمد ظاهر اکا دئ. په ۱۹۱۷ز کال کې د «سر- سر- اوس» [1] په توګه مقرر سو چې د هغه مهال د ډګروالی رتبه وه. د ۱۹۱۹ز کال د سپتمبر په میاشت کې د «جنوبي سمت» [2] (پکتیا) ملکي او پوځي والي. له ۱۹۲۲ تر ۱۹۲۵ز کال پورې د بدخشان او قطغن عمومي بولندوی. د ۱۹۲۶ز کال د اپریل په میاشت کې د مشرقي ولایت والي. د ۱۹۲۸ز کال د فبروری په میاشت کې له جلال آباد څخه کابل ته راتبدیل سو. د ۱۹۲۸ز کال د مارچ په میاشت کې د کورنیو چارو د وزارت مرستیال وزیر. حبیب الله کلکاني د ختیځو او سویلي ولایتونو قومونه لپاره د خپل شخصي استازي په توګه وګومارهٔ. کله چې د ۱۹۲۹ز کال د مارچ په میاشت کې جنرال نادر خان خوست ته راورسېد شاه محمود هم ورسره یو ځای سو. د

[1] -Sar-Sar-Os
[2] -Samt-i- Janubi


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

حبيب الله کلکاني پر وړاندې د نادر خان د کمپاين مرسته ئـې وکړه. له ۱۹۲۹ تر ۱۹۴۶ز کال پورې د نادر شاه د جنگ وزير او ستر درستيز. له کابله د شمالي ولايتونو پر لور وخوځېد او د ۱۹۳۱ز کال د جنورۍ په مياشت کې د افغانستان د شمال د ولايتونو لپاره د «تنظيميه رئـيس» په توگه وگومارل سو. په دې بريالى سو چې د شوروي اتحاد د سرحداتو په اوړدو کې ابراهيم بيگ وځپي او په هېـواد کې ئـې په کافي اندازې امنيت دومره ټينگ کړ چې شاه محـمود وکولى سول د ۱۹۳۱ز کال د آگست په مياشت کې کابل ته راستون سي. د «لمر اعلى» [3] مډال ئـې واخيست د ۱۹۳۱ز کال د سپتمبر په مياشت کې ئـې د مارشالۍ لقب تر لاسه کړ. کله چې نادرشاه په کابل کې په قتل ورسېـد دی حاضر وو. محـمد ظاهر ئـې د پادشاه په توگه کانديد کړ او هغـهٔ ته ئـې د خپل بيعت سوگند وخوړ. دی په خپله د ستر درستيز او د جنگ دوزير په توگه پاتې سو. د ۱۹۳۵ز کال د دسمبر په مياشت کې د اروپا په سفر راووت. د ۱۹۳۶زکال د دسمبر په مياشت کې بـېـرته کابل ته راستون سو. له ۱۹۴۶ تر ۱۹۵۳ز کال پورې د صدراعظم په توگه. له ۱۹۵۰ تر ۱۹۵۱ز کال پورې د امريکا په متحده ايالاتو کې وو. د شاه محـمود حکومت د «پـښـتونستان» په پلوي او د سرحد د پښـتـنو د «خود ارادیت» د حق د ورکولو په گټه ئـې کمپاين په لاره واچاوهٔ. د هلمند د درې د پراختيا او پرمختيا په هکله ئـې د امريکا همکاري ومنله. د بيان او د مطبوعاتو واقعي آزادي ته ئـې اجازه ورکړه. د کابل پوهنتون محصلين او ولسي جرگه په سياسي ځواکونو بدل سول. دی هغه مهال مجبور سو چې استبدادي اقداماتو ته رجعت وکړي کله چې د سياسي آزاديو ورکړه ددې لامل سوه چې ددهٔ پر حکومت باندې بريدونه مخ په ډېـرېـدو سول. په ۱۹۵۲ز کال کې ئـې ببرک کارمل، عبدالحی عزيز، ډاکټر قيوم رسول، فاروق اعتمادي، برات علي تاج او نور زندان ته واچول. په ۱۹۵۳ز کال کې ئـې استعفى وکړه او پر ځای ئـې سردار محـمد داؤود وگومارل سو. د امير حبيب الله د نورستانۍ مـېـرمني له لور قمر البنات، صفورا سراج سره ئـې وادهٔ کړی وو. زامن ئـې : ځلمی محـمود غازي (په ۱۹۶۵ز کال کې د پاريس سفير، په ۱۹۷۱ کې د لندن، په ۱۹۷۳ کې د تهران او په ۱۹۷۷ز کال کې د قاهرې سفير)؛ او سلطان محـمود غازي (له ۱۹۷۱ تر ۱۹۷۶ز کال پورې د هوايي ملکي او توريزم رئـيس)؛ عبدالعظيم (په مسکو کې پوځي اتشه)؛ نظام الدين (د باندنيو چارو د وزارت مأمور) او صلاح الدين (په شخصي کاروبار اخته وو). د ۱۹۵۹ز کال د دسمبر په مياشت کې وفات سو.

**شاه ولي غازي** : وگورئ : مارشال شاه ولي

## سلطان محـمود غازي

د صدراعظم شاه محـمود غازي دوهم زوی په ۱۹۲۵ز کال کې زېږېـدلی دئ. په ۱۹۴۶ز کال کې د استقلال له ليسي څخه فارغ سو؛ او په ۱۹۴۸ز کال کې د سويتزرلند د لوزان له پوهنتون څخه فارغ سوی دئ. له ۱۹۵۰ تر ۱۹۵۳ز کال پورې ئـې د کاناډا د مونتريال په پوهنتون کې تحصيل وکړ او ليسانس ئـې تر لاسه کړ. له ۱۹۵۳ تر ۱۹۶۳ز کال پورې د صدارت عظمی د تفتيش مشر. په ۱۹۶۴ز کال کې د چين – افغانستان تر منځ د سرحدي تحديد او نښو اېښودلو د خبرو اترو رئـيس او توافق ليک ئـې ورسره لاسليک کړ. له ۱۹۶۳ تر ۱۹۷۷ز کال پورې د وزير په رتبې د افغان هوايي چلند او توريزم رئـيس. له ۱۹۶۳ تر ۱۹۷۷ز کال پورې د آريانا افغان هوايي شرکت رئـيس. له ۱۹۶۸ تر ۱۹۷۷ز کال

3 -Lmar-i-Ala


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولـئ

پورې د کورنیو الوتنو لپاره د باختر د هوايي شرکت بنسټ ايښودونکی او رئيس. د افغان کمپیوټر د مرکز بنسټ ايښودونکی او رئيس. د افغان هوټلونو د سهامي شرکت رئيس. له ۱۹۶۵ تر ۱۹۷۷ز کال پورې د افغان – چين د ملګرتوب د ټولنې رئيس. په ۱۹۷۷ز کال کې ئې تقاعد وکړ. د غوايي د پاڅون پر مهال له هېواده دباندې وو. د ملکې حميرا له خور، عاليې سره ئې وادهٔ کړی دئ. د امريکا په متحده ايالاتو کې ژوند کوي.

## ځلمی محمود غازي

د صدراعظم شاه محمود غازي زوی او د پخواني پادشاه محمد ظاهر د اکا زوی د ۱۹۲۴ز کال د فبرورۍ د مياشتې په دوهمې نېټې زېږېدلی دئ؛ (ځلمی محمود غازي د داؤود لور شينکۍ خاوند دئ). په ۱۹۴۲ز کال کې د استقلال له ليسې څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۵۰ز کال کې ئې خپل ليسانس د هارورډ له پوهنتون څخه تر لاسه کړ. په ۱۹۵۲ز کال کې ئې خپله ماستري د کولمبيا له پوهنتون څخه ترلاسه کړه. په ۱۹۵۷ز کال کې ئې د ژنوا د پوهنتون د نړۍ والو مطالعاتو له انستيتيوت څخه د فراغت سند په سياسي علومو کې تر لاسه کړ. له ۱۹۵۷ تر ۱۹۵۸ز کال پورې د کابل پوهنتون مدرس. په ۱۹۵۸ز کال کې د باندنيو چارو په وزارت کې د اقتصادي اړيکو مدير. په ۱۹۵۹ز کال کې په واشنګټن کې د افغان سفارت لومړی سکرتر. په ۱۹۶۲ز کال کې د باندنيو چارو په وزارت کې د نړۍ والو اړيکو او د ملګرو ملتونو د چارو مدير. په ۱۹۶۵ز کال کې پاريس، بروسلز او ويانا ته د افغانستان سفير. په ۱۹۷۱ز کال کې لندن، اوسلو او هاګ ته د افغانستان سفير. په ۱۹۷۳ز کال کې تهران کې د افغانستان د سفارت سفير. له ۱۹۷۷ تر ۱۹۷۸ز کال پورې قاهرې کې د افغانستان سفير. شوروي اتحاد سره د سرحدي نښو د ټاکلو د پلاوي غړی، او له چين سره د سرحدي نښو د ټاکلو د پلاوي غړی. د ملګرو ملتونو د ۱۵، ۱۶ او ۱۷ عمومي اسامبلو کې د افغان پلاوي غړی. په ۱۹۵۲ز کال کې ئې د (پښتونستان يا د استعماري سياست پايلې)[4] کتاب وليکهٔ. مېرمن ئې شينکۍ د ۱۹۷۸ز کال د اپريل د مياشتې په ۲۷ نېټې له محمد داؤود او دهٔ د کورنۍ له نورو غړو سره د ولسمشرۍ په ماڼۍ کې د جګړې پرمهال ووژل سوه. اوس له خپلو دوه وو لونو سره په پاريس کې ژوند کوي.

## ډاکټر عبدالغفور غزنوي

د محمد دين زوی. په ۱۹۶۰ز کال کې ئې خپل ليسانس په ښوونې او روزنې کې د لبنان د اې. يو بي.[5] له پوهنتون څخه اخيستی دئ؛ ماستري په ساينس[6] کې اخيستې ده؛ او دکتورا ئې په ۱۹۶۹ز کال کې د کولمبيا له پوهنتون څخه په رياضياتو کې تر لاسه کړې ده. په ۱۹۷۱ز کال کې ئې په لبنان کې د اې. يو. بي. په علمي کنفرانس کې ګډون وکړ. د کابل پوهنتون د ښوونې او روزنې د پوهنځي د ساينس او د رياضياتو د ديپارتمنت رئيس. په ۱۹۸۵ز کال کې نړۍ وال ملکي کارمند[7]، يونسکو.

4 - Pashtunistan or consequences of the colonial policy
5 -AUB - American University of Beirut
6 -Science Education
7 -International Civil Servant, UNESCO, Paris


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

### برهان الدين غیاثي

د خلق ډیموکراتیک ګوند د مرکزي کمیټې غړی. د DOAY چې پخوا KOAY نومېدۀ، د اجرائیوي بورډ لومړی منشي. د ګوند د مرکزي کمیټې د اقتصادي څانګې مسؤول. د ۱۹۸۳ز کال د اکتوبر په میاشت کې د لوړو او مسلکي زده کړو د وزارت وزیر.

### نور بیا

### میر غلام محمد غبار

(د کابلي سید له کورنۍ څخه) د سید محبوب زوی په ۱۸۹۷ز کال کې په کابل کې...

قدرمنو لوستونکو! د بناعلي رحمت آریا د آرشیف: لینک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ